**لیکونکی** :ریت ادمیرال سیم ګوردینس«Ret Admiral Cem Dürdeniz»

**منبع اودخپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ «2026-10-08»

**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---------------------------------------------------------

# افغانستان او یمن: د مقاومت دوه جغرافيې چې په غرونو کې ريښې لري

# Afghanistan and Yemen: Two Geographies of Resistance Anchored in the Mountains

## ساعتونه ستاسو سره دي . وخت زموږ سره دی

## You have the watches. We have the time.



په تاریخ کې ځینې داسې جغرافیایي سیمې شته چې جیوپولیټیک (سیاسي-جغرافیایي) اهمیت یې په نقشه کې د هغوی د مساحت له اندازې سره ډېر لږ تړاو لري. افغانستان له دغو سیمو څخه یوه ده او یمن بله.

**لومړنۍ سیمه (افغانستان) د ا سیا په زړه کې پروت یو غرنی او له سمند ر سره نښلونکی لار نه لرونکی (وچه کې ايسا ر) هېواد دی.**

**دویمه سیمه (یمن) د عربستان د ټاپووزمې په سویلي څنډه کې، د هغو سمندري لارو په اوږدو کې موقعیت لري** چې سره سمند رګی له هند سمند ر سره نښلوي. خو دواړه یوه بنسټیزه ځانګړتیا لري:

په تاریخ کې، دواړو د خپلې جغرافيې ځواک په داسې مقاومت بدل کړی چې د هغو کسانو پر وړاندې کارول شوی چې غوښتل یې پرې خپله اراده وتپې.

## د افغان مقاومت لومړنی دوره

د افغانستان د برخلیک د درک کولو لپاره، اړینه ده چې له نقشې څخه پیل وکړو. دا هېواد د "زړه سیمې" (Heartland) په مرکز کې پروت دی؛ سویل ته یې د هند نیمه وچه، ختیځ ته یې د چین په لور غځېدلې غرنۍ لړۍ او لویدیځ ته یې ایران موقعیت لري. د هندوکش غرونه هېواد په دوو برخو ویشي. د خیبر دره د افغانستان او هند د نیمې وچې ترمنځ یوه تاریخي دروازه ده، په داسې حال کې چې د هندوکش له لارې تیر شوی د سالنګ تونل یوه ستراتیژیکه رګ (حیاتي لار) ګڼل کیږي چې شمال او سویل سره نښلوي.




Map of Afghanistan (Source)

دا همدغه جغرافیه وه چې افغانستان یې په نولسمه پیړۍ کې د بریتانیا او روسیې ترمنځ د امپراطورۍ سیالۍ په ډګر بدل کړ. د لندن لپاره، د هند سمندر ته د روسیې د پراختیا احتمال د منلو وړ نه و. له همدې امله، د بریتانوي ستراتیژۍ اصلي موخه دا نه وه چې په افغانستان باندې کنټرول ولري، بلکې موخه یې دا وه چې د یو بل لوی ځواک لخوا د هغه د کنټرول مخه ونیسي.

بریتانیاپه نولسمه پیړۍ کې له روسیې سره د خپلې جیوپولیټیکي سیالۍ له امله افغانستان ته ننوتله ؛ یوه داسې مبارزه چې په تاریخ کې د "لویې لوبې" (Great Game) په نوم مشهوره شوه. د لندن اصلي موخه دا وه چې افغانستان د دواړو امپراطوریو ترمنځ د یو حایل (فاصله رامنځته کوونکې) زون په توګه وساتي. خو دا هڅه په پای کې د بریتانیا لپاره په یوه فاجعه بدله شوه.

***د انګلیس او افغان لومړنۍ جګړه،*** چې په ۱۸۳۹ کال کې پیل شوې وه، په ۱۸۴۲ کال کې د بریتا نیا د امپراطورۍ تاریخ په یوه تر تولو لویه پوځي فاجعه پای ته ورسېده، کله چې له کابله شاتګ کوونکی ځواک نږدې په بشپړه توګه له منځه لاړ. د ۱۸۴۲ کال په ژمي کې، دبریتانوي هند یو کاروان چې شاوخوا[ ۱۶۰۰۰ ]سرتیري، د پوځي کمپ اړوند کارکوونکي او ملکي وګړي پکې شامل وو او له کابله جلال اباد ته په شا کېدل، د هندوکش په غرنیو لارو کې نږدې په بشپړه توګه له منځه یوړل شو. ډاکټر ویلیم براېډن، چې له دغه شا تګ کوونکي کاروان څخه یوازې جلال اباد ته ورسېد، په افغانستان کې د بریتانیا د امپراطورۍ د یوې تر تولو لویې فاجعې په تلپا تې سمبول بدل شو.

بریتانیا په( ۱۸۷۸) کال کې بیا افغانستان ته راغله. د انګلیس او افغان د دویمې جګړې په پای کې ، دې هېواد د افغانستان په بهرنیو چارو کې د پام وړ نفوذ ترلاسه کړ، خو یو ځل بیا یې په افغا نستا ن باندې د مستقیمې واکمنۍ په ټینګولو کې ناکامي تجربه کړه. د (۱۹۱۹ ) کال د ***انګلیس او افغان دریمې جګړې*** په پای کې د افغانستان خپلواکي د بهرنیو اړیکو د تنظیم په برخه کې تضمین کړه.

بریتانوي امپراطورۍ پر سمندرونو واکمنه وه. خو بیا هم، هغې نشو کولی د هندوکش په درو او غرونو کې دایمي شتون رامنځته کړي.

## دویمه افغان مقاومت

شپېته کاله وروسته ، یو بل لوی ځواک افغانستان ته ننوت ـــ دا ځل شوروي اتحاد. شوروي پوځ د ۱۹۷۹ کال په ډسمبر کې پر افغانستان یرغل وکړ او په چټکۍ سره یې پر کابل او لویو ښاري مرکزونو کنټرول ټینګ کړ. خو په کلیوالو او غرنیو سیمو کې، دوی له هغه مقاومت سره مخ شول چې د مجا هد ینو لخوا رهبري کېده او ورځ تر بلې پراخېده.



## *مجاهیدین د کنړپه ولایت کي(ccBy-Sa 3.0)*

*د بهرنیو ځواکونو پر وړاندې د مقاومت افغاني کلتور، چې ریښې یې په نولسمه پیړۍ کې وې، یو ځل بیا راپورته شو؛ دغه بهیر د هېواد د غرنۍ جغرافیې، قبیلوي جوړښتونو او قوي سیمه ییزو هویتونو له امله دوام وموند. خو د شوروي اتحاد اشغال یو ژور بدلون رامنځته کړ چې د مقاومت د دې تاریخي دود ماهیت یې بدل کړ. هغه څه چې پخوا په عمده توګه د بهرني اشغال پر وړاندې د وطن، قبیلې او سیمې د دفاع په چوکاټ کې بڼه موندلې وه، د سړې جګړې په شرایطو کې یې په تدریجي ډول مذهبي او ایډیالوژیکي بڼه غوره کړه. اسلام نور یوازې د افغاني ټولنې عقیده نه وه، بلکې په زیاتیدونکي توګه د شوروي اشغال او کمونیزم پر وړاندې د مبارزې په یوه متحد کوونکې ایډیالوژۍ بدل شو.*

*د دې بدلون پا یلې له افغانستان څخه ډېرې لرې سیمو ته وغځېدې. په راتلونکو لسیزو کې، خپله افغا نستا ن له ژورې ټولنیزې او تمد ني شاته پاتې کېدنې سره مخ شو، په داسې حال کې چې دجګړې پر مهال راپارول شویو ځواکونو په ټوله نړۍ کې دامنیتي کړکیچونو په رامنځته کولوکې ونډه واخیسته اودملیونونو خلکو د مرګ او کړاو لامل شول.*

## *د متحده ایالاتو لخوا د مجاهدینو وسله وال کول*

*متحده ایالاتو په چټکۍ سره د دې بدلون جیوپولیټیک ارزښت درک کړ. د واشنګټن اصلي موخه نه د افغا نستا ن عصري کول وو او نه هم د ډیموکراسۍ رامنځته کول؛ بلکې موخه دا وه چې شوروي اتحاد یوې اوږدې، ګران بیه او کمزورې کوونکې جګړې ته راښکاره کړي. د متحده ایالاتو ، پاکستان او سعودي عربستان په محوریت د یو ملاتړي شبکې له لارې — چې پکې سي آی اې (CIA) او د هغوی سیمه ییز استخباراتي شریکان شامل وو — افغان مقاومت وسله وال او تمویل شو. د سعودي د پام وړ مالي مرستو سره، دغه مبارزه په زیا تید ونکي توګه د سخت دریځو اسلامپالو ایډیالوژیکي چوکاټ کې ځای پر ځای شوه چې د وها بي- سلفي جریانونو تر سخت اغیز لاندې و. د پاکستان مدرسې، سعودي ما لي مرستې او د نړۍ له بېلابېلو برخو څخه د سخت دریځو اسلامپالو جنګیالیو راتګ هغه بنسټیزې سرچینې برابرې کړې چې له مخې یې یو دودیز افغان مقاومت غورځنګ په تدریجي ډول په یوه نړیوال "جهاد" بدل شو.*

کله چې د مجاهدینو قوماندانانو واک ترلاسه کړ، د افغانستان د دودیزو قبیلوي مشرانو ترڅنګ یو نوی مذهبي- سیاسي جنګیالی قشر (ایلیټ) راڅرګند شو. په دې توګه، د بهرني اشغال پر وړاندې د مقاومت تاریخي افغان کلتور، د نړیوالې سړې جګړې د ستراتیژیکو اړتیاوو سره سم، د اسلامپالې ایډیالوژیکي او نظامي نیابتي جګړې په یوې وسیلې بدل شو.

د شوروي د اشغال او ورسره مل کورنیو کډوېیو پر مهال، شاوخوا یو ملیون افغان کډوال، چې ډېری یې پښتانه وو، پاکستان ته واوښتل. د کډوالو له دغو ټولنو څخه نارینه جذب او په جنګیالیو بدل شول. د پاکستان له لارې مجاهدینو ته د پیسو او وسلو بهیر پیل شو. سعودي عربستان یوازې مالي مرسته نه کوله، بلکې سخت دریځه اسلامپالان — چې دسعودي دواکمن نظام مخالفین هم پکې شامل وو د افغانستان د جګړې ډګر ته استول کېدل.

د امریکایانو لپاره، ستراتیژیک وضعیت خورا مناسب ښکارېده: په افغان مقاومت کې یو نسبتاً لږه پانګونه کولای شول چې شوروي اتحاد ته خورا درانه او غیر متناسب لګښتونه ور واړوي.

## دریم افغان مقاومت



**د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۷ مه په افغانستان کې د القاعدې د روزنیزو کمپونو او د طالبانو د پوځي تاسیساتو په وړاندې د برید په ترڅ کې د فلپین سمندرګي څخه د توماهاک کروز توغندی وتوغول شو (عامه ډومین)**

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د« ۱۱» مې له بریدونو وروسته، دا ځل متحده ایالات— چې د یو قطبي نړۍ بې سیاله ستر ځواک ګڼل کېده— افغانستان ته ننوتل. موخه یې د هغه ناوړه پدیدې له منځه وړل وو چې تر ډېره حده له هغه جیوپولیټیک چاپېریال څخه راټوکېدلې وه چې واشنګټن پخپله په تېرو دوو لسیزو کې د هغې په رامنځته کولو کې ونډه درلوده.

د طالبانو رژیم په څو اونیو کې نسکور شو، کابل ونیول شو او د ناټو په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د( ۵ مې) مادې له فعالېدو وروسته، جګړه په تدریجي ډول په یوه پراخه نړیواله پوځي مبارزه بدله شوه. د« ۲۰۰۱» کال د اکتوبر له ۷مې نېټې وروسته ، متحده ایالاتو د مرکزي آسیا په زړه کې خپل حضور ټینګ کړ. ناټو هم ورپسې راغله. د ۲۰۰۳ کال د اګست په ۱۱مه، دغه اتحاد د ملګرو ملتونو تر واک لاندې د "نړیوال امنیتي مرستندوی ځواک" (ISAF) مشري پر غاړه واخیسته او په دې توګه یې په افغانستان کې د نړیوال پوځي حضور په مرکز کې ځای ونیو.

هغه اتحاد چې په اصل کې د شمالي اتلانتیک د دفاع لپاره جوړ شوی و، اوس مرکزي آسیا ته رسېدلی و—یعنې هغې سیمې ته چې ناټو پخوا د خپلې اصطلاح له مخې د "ساحې څخه بهر" (out-of-area) سیمې په توګه پېژندله . د "نوي امریکایي قرن پروژې" (PNAC) پورې تړلو نوي محافظه کارو طراحانو، د جیوپولیټیک له نظره، ځانونه د نړۍ د ستراتیژیک مرکز یا "هارټلینډ" (Heartland) په منځ کې ځای پر ځای کړي وو.

خو په راتلونکو شلو کلونو کې، تر ۲۰۲۱ کال پورې، حتی د امریکا او ناټو په مشرۍ پوځي حضور— چې د ځواکونو شمېر یې په اوج کې شاوخوا ۱۵۰ زرو بهرنیو سرتېرو ته رسېده—ونه شوکړای چې هغه ځواکونه له منځه یوسي چې په تېرو لسیزو کې راپورته شوي وو، او یا هم یو داسې نوی او پایښت لرونکی افغان دولت رامنځته کړي چې کارنده وي. بالاخره، د افغانستان خپل داخلي واقعیتونه او تحولات غالب شول.

امریکا یي ډالر ، د بیسبال کپس [American Dollers Basball Caps] او د مکډونالډ ها مبرګرونه د افغان ټولنې یا افغان دولت د بدلولو لپاره کافي نه وو . پوځي برتري کولای شول یو حکومت نسکور کړي. مالي ځواک کولای شول بنسټونه فعال وساتي. لویدیځ کلتوري سمبولونه کولای شول ښارونو ته لار ومومي. خو له دې څخه هیڅ یو، که په انفرادي توګه وي یا په ګډه، نه شو کولای په بنسټیز ډول هغه ټولنه له سره جوړه کړي چې سیاسي جوړښتونه، تاریخي حافظه او ټولنیز نظام یې د پېړیو په اوږدو کې د یوې بشپړې بېلې جغرافیې او تاریخي تجربې له مخې شکل موندلی و. په ورته وخت کې، له چین سره د پاکستان مخ پر زیاتیدونکي جیوپولیټیک (سیا سي-جغرافیایي) اتحاد او په سیمه کې د "چین- پاکستان اقتصا دي دهلیز " (CPEC) د یوې داسې پروژې په توګه راڅرګند یدل چې کولی شي د لوبې قواعد بدل کړي، د افغانستان شاوخوا ستراتیژیک

چاپیریال کې د ژور بدلون لامل شول. واشنګټن اړ شو چې په زیاتیدونکي توګه خپلې سیمه ییزې لومړیتوبونه له سره وڅیړي.

د( ۲۰۲۱ ) کال په اګست کې، د امریکا تر ملاتړ لاندې افغان حکومت په خورا چټکۍ سره سقوط وکړ. طا لبا ن کا بل ته راستا نه شول او وروستي امریکا یی ځوا کو نه د سپکوونکو صحنو په منځ کې له هیواده ووتل؛ صحنې چې په ناګزیر ډول یې په ۱۹۷۵ کال کې د سایګون د سقوط خاطرې راژوندۍ کړې. له شل کلن اشغال، جګړې او د دولت جوړونې له هڅو وروسته، افغانستان په عملي توګه بیرته هماغه غورځنګ ته وسپارل شو چې په ۲۰۰۱ کال کې ترې اخیستل شوی و. له ستراتیژیک او سیاسي پلوه، دا یوه داسې پایله وه چې له تاریخي پلوه د شرم وړ او حیرانوونکې بڼه یې درلوده.

لومړی بریتانیا راغله، چې د نولسمې پیړۍ نړیواله ستر واکې وه. بیا شوروي اتحاد راغی ، چې د شلمې پیړۍ د لویې وچې ستر ځواک (سوپر پاور) و. په پای کې متحده ایالات راغلل، چې د سړې جګړې وروسته دورې بې سیاله پوځي ځواک ګڼل کیده. دا درې واړه په همدې جغرافیه کې په اوږد و او ګران بیه جګړو کې ښکیل شول. غرونه، درې، غا رونه، تونلونه او د غرونو لارې (ګذرګاوې) هماغه ځای پاتې شول چې تل وو. تر دې مهمه دا چې، د مقاومت هغه روحیه او بڼه چې د دې سختې او بې رحمه جغرافیې لخوا رامینځته شوې وه، له منځه لاړه نه شوه.

خو د افغا نستا ن راز یوازې د خلکو په جنګي روحیه کې نه دی نغښتی. کله چې غرونه، قبیلوي جوړښتونه، سیمه ییز وفاداري، دین، ستراتیژیکې لارې، درې، غارونه او د مرکزي واک دوامداره محدودیتونه په ګډه په پام کې ونیول شي، نو دا ټول یو داسې دفاعي سیستم جوړوي چې خورا پیاوړی او د مقاومت وړتیا لرونکی دی.

عصري ټیکنالوژۍ د دې جغرافیې لخوا چمتو شوي دفاعي امتیازات کم کړي دي. دقیقې وسلې، سپوږمکۍ، بې پیلوټه الوتکې، بریښنایی څارنه او هوایی ځواک هغو سیمو ته نفوذ کړی چې پخوا د بهرنیو لښکرو لپاره د لاسرسي وړ نه وې. خو ټیکنالوژۍ جغرافیه له منځه نه ده وړې. او افغانستان لا هم د دې حقیقت یو له خورا پیاوړو تاریخي مثالونو څخه پاتې دی. د یمن مقاومت: د پنځو پیړیو تاریخ ستراتیژیک درس

# د یمن مقاومت: د پنځو پیړیو تاریخ ستراتیژیک درس

## *Yemeni Resistance: The Strategic Lesson of Five Centuries of History*

.

په یمن کې د نن ورځې حالاتو یوازې د انصارالله، ایران، سعودي عربستان یا په سره بحر کې د وروستیو نښتو له زاویې څخه ارزول به د تاریخي لیدلوري له پلوه یوه لویه تېروتنه وي . د اوسني بحران تر شا یوه ژوره ستراتیژیکه واقعیت شتون لري چې نږدې پنځه پېړۍ یې ځان ثابت کړی دی: دا ممکنه ده چې یوه بهرنۍ یوځي ځواکمنه ډله یا هېواد یمن ته ننوځي او د هغه ساحلونه، بندرونه او ښارونه تر خپلې ولکې لاندې راولي . خو د یمن د شما لي برخې پر غرنۍ او تولنیزې اصلي سیمې باندې دایمي بهرنۍ واکمني تینګول یو بشپړ متفاوت بحث دی .له همدې امله، په یمن کې د نن ورځې جګړې د درک کولو لپاره باید شپاړسمې پېړۍ ته ورګرځو.

## یمن ته د عثماني خلافت ننوتل

د عثماني ستر واکی لپاره، یمن هېڅکله یوازې یوه لیرې پرته سیمه نه وه . دا یوه ستراتیژیکه مخکښه سیمه وه چې د سره بحر د امنیت، د حجاز او سپیڅلو ښارونو د دفاع او د هند سمندر د سمندري سوداګریزو لارو د ساتنې لپاره حیاتي ارزښت یې درلود .




Map of Yemen ([Source](#))

.

د "ښه امید" (Cape of Good Hope ) د څوکې شاوخوا ته د پرتګال د تېرېدو، هند سمندر ته د هغوی د ننوتلو او د سره سمندرګي (Red Sea) په دروازو کې د هغوی د مخ پر زیاتېدونکي حضور وروسته، عثما نیا نو له( ۱۵۳۸ ) کال څخه په یمن با ندې د خپل کنترول تینګول پیل کړل.

ساحلي سیمې د عثمانیانو تر واکمنۍ لاندې راغلي؛ خو یوازې پر ساحل کنترول د ټول یمن دکنټرول په معنا نه و.دشمالي یمن لوړې سیمې، تنګې درې،پیاوړي قبیلوي جوړښتونه او ژورې ریښې لرونکې زایدي (Zaydi) دود،دمرکزي واکمنۍ دنفوذ ساحه خورا محدوده کړې وه. په ۱۵۹۷ کال کې، د زایدي امامت نظام چې د المنصور القاسم تر مشرۍ لاندې پیاوړی شوی و، اوږدمهاله مقاومت پیل کړ. د عثمانیانو واکمني ورو ورو کمزورې شوه اوتر [۱۶۳۵-۱۶۳۶] کلونوپورې،عثماني ځواکونه له ډېرې یمن څخه وتلي وو.

# د یمن دوه جیوپولیتیک محورونه

په نولسمه پېړۍ کې، له صنعتي انقلاب وروسته، یمن یو ځل بیا د سترو قدرتونو ترمنځ د سیالۍ په ډګر بدل شو. په( ۱۸۳۹) کال کې د عدن د ستراتیژیک اهمیت لرونکي بندر نیول د بریتانیا لخوا، یو مهم جیوپولیتیک بدلون و. عدن چې د هند پر لاره پروت و، د هند سمندر او سره سمند رګي د محور په اوږدو کې د بریتانیا د سمندري سترواکۍ په یوه کلیدي اډه بدل شو. په ( ۱۸۶۹) کال کې د سویس کانال پرانیستل کېږ و د دې سیمې ستراتیژیک اهمیت نور هم زیات کړ. په پا یله کې، یمن د دوو جلا جیوپولیتیک محورونو پر بنسټ وده وکړه. په شما ل کې، پر ځمکنۍ جغرافیه ولاړ جیوپولیتیک رامنځته شو چې ریښې یې په غرونو، قبیلواوزایدي سیاسي دود کې وې.په سویل کې، سمندري جیوپولیتیک رامنځته شو چې مرکز یې عدن او د نړیوالي سوداګرۍ له اصلي سمندري لارو سره د هغه نښلون و. د دې دوو محورونو ترمنځ تعامل د هغو بنسټیزو لاملونو څخه وګرځېږ چې له مخې یې یمن نیول کېدای شو، خو کنټرولول یې خورا ستونزمن پاتې شو.

عثمانیانو په ۱۸۴۹ کا ل کې تهامه (Tihama) او په« ۱۸۷۲» کال کې صنعا بېرته ونیول. خو هغه بنسټیزه ستونزه چې درې پېړۍ مخکې ورسره مخ وو، هماغسې پاتې وه. ښارونه نیول کېدای او اداره کېدای شول، خو د شما ل پر غرنیو سیمو دایمي کنټرول ترلاسه کول ناشوني پاتې شول.

سربېره پر دې، په یمن کې د جګړې لګښت یوازې د جګړې په ډګر کې د تلفاتو له مخې نه اندازه کېده. ناروغۍ، اقلیم، ځمکنۍ جوړښت او د اکمالاتو اوږدې لارې هم هغومره پوځي ځواکونه له منځه وړل لکه څنګه چې خپله جګړه. په پایله کې، یمن د هغو لیرې پرتو سیمو په توګه د ترکیې په تاریخي حافظه کې ځای ونیو چې له دې تراژیدیک احساس سره تړلې وې: "هغوی چې ځي، بېرته نه راځي."

د زایدي امام یحیی تر مشرۍ لاندې د عثماني واکمنۍ پر وړاندې مقاومت بالاخره په ۱۹۱۱ کال کې د "داعن" تړون لامل شو. عثما ني سترواکي مجبوره شوه چې په زایدي لوړو سیمو کې د امام یحیی پراخ واک په رسمیت وپېژني. د عثماني واکمنۍ دوره په پای کې په ۱۹۱۸ کال کې پای ته ورسېده.

خو د عثمانیانو وتلو د یمن د وروستي وېش (په شما ل او جنوب ) لپا ره شرایط هم پیاوړي کړل. په حقیقت کې، د دې وېش بنسټونه لا د مخه په نولسمه پېړۍ کې ایښودل شوي وو. په داسې حال کې چې بریتانیا له ۱۸۳۹ کال وروسته د عدن بندر په شاوخوا کې په جنوبي یمن کې خپل دریځ ټینګ کړ، شما لي سیمې د عثما نیا نو تر اغېزې لاندې پاتې شوې. د لومړۍ نړیوالې جګړې په پای کې د عثمانیانو له وتلو وروسته، شمالي یمن د یوې خپلواکې پاچاهۍ په توګه راڅرګند شو. په ۱۹۶۲ کال کې د پاچاهۍ د نظام ړنګېدل د یمن د عربي جمهوریت یا شمالي یمن د تاسیس لامل شول.

برتانيي په ۱۹۶۷ کال کې له عدن او شاوخوا سيمو څخه خپل ځواکونه وويستل، چې له امله يې سويلي يمن خپلواکي ترلاسه کړه. له ۱۹۷۰ کال وروسته، دا هېواد د يمن د خلکو ديموکراتيک جمهوريت شو؛ يو مارکسيستي دولت چې له شوروي اتحاد سره يې نږدې اړيکې درلودې.

په دې توګه، د سړې جګړې د ډېرې مودې په جريان کې، دوه جلا يمنونه موجود وو: شمالي يمن چې مرکز يې صنعا وه، او سويلي يمن چې مرکز يې عدن و.

د( ۱۹۹۰) کال د مې په« ۲۲» مه، دواړه دولتونه سره يوځای شول او د يمن اوسنی جمهوريت يې رامنځته کړ. خو سياسي يووالي ونشو کړای چې د نږدې يوې پيړۍ بېلابېل سياسي، اقتصادي او جيوپوليټيک پرمختګونه له منځه يوسي . د شما ل او جنوب ترمنځ تاريخي درز (يا توپير) د يووالي وروسته هم پاتې شو او لا هم د يمن د اوسنۍ شخړې او په جنوب کې دبېلتون غوښتونکوخوځښتونوددوام د پوهېدو لپاره يوه بنسټيزه مسئله ګڼل کيږي.

د زايدي مېشتو لوړو سيمو او بهرنيو قدرتونو ترمنځ اړيکو کې يو د پام وړ تاريخي اړخ هم شتون لري. د لومړۍ نړيوالې جګړې پر مهال، په داسې حال کې چې په سيمه کې ډېرو نورو عربي ځواکونو او سياسي ډلو د عثماني سترواکۍ پر وړاندې د برتانيې ملاتړ غوره کړ، په يمن کې زايدي مشرتابه دا لاره تعقيب نه کړه. امام يحيی د جګړې تر پايه پورې له عثمانيانو سره خپله جوړجاړی او همکاري وساتله. دا تاريخي حافظه نن ورځ هم د پام وړ ده.

انصار الله، چې په عامه توګه د حوثيا نو په نوم پېژندل کيږي، د شمالي يمن له همدې زايدي ټولنيز او جغرافيايي مرکز څخه راپورته شوې ده. دا ډله نه شي کولی په ساده ډول د تاريخي زايدي امامت سره پرتله شي، او نه هم د ټولو زايديانو استازيتوب کوي. خو د دې ډلې د مقاومت وړتيا د دې تاريخي تسلسل له درک کولو پرته نه شي پوهيدلی. نن ورځ، انصار الله ځان د يو داسې ځواک په توګه وړاندې کوي چې د بهرنی مداخلې، لويديځ تسلط او اسراييلو پر وړاندې مقاومت کوي. د دې خوځښت په اړه د هر چا سياسي ارزونه هر څه چې وي، د هغوی دوام او پايښت يوازې د ايران د ملاتړ، توغنديو يا بې پيلوټه الوتکوپه واسطه نه شي تشريح کيدای. د دې ريښې په يوه خورا پخواني ستراتيژيک واقعيت کې نغښتي دي: د شمالي يمن غرونه، قبيلې، سياسي دودونه او تاريخي حافظه په وار وار د بهرني کنټرول پر وړاندې د مقاومت لامل شوي دي.

**د ناصر «ويتنام**



## ریس جمهور مصر جمال عبدالناصر

په ۱۹۶۲ کال کې په شمالي یمن کې د پاچاهۍ دنسکورېدووروسته رامنځته شوې کورنۍ جګړه یوه بله مهمه تاریخي شببه وه. مصر ، د جمال عبدالناصر تر مشرۍ لاندې ، د جمهوري غوښتونکو ځواکونو د ملاتړ لپاره یمن ته په لسګونو زره سرتېري واستول. سره له دې چې مصري پوځ په دوديز پوځي ځواک کې خورا برترۍ درلود، خو په غرنیو سیمو کې په یوه اوږده او سترې کوونکې جګړه کې ښکېل شو.

دا مداخله، چې تر ۱۹۶۷ کال پورې یې دوام وکړ، وروسته ډېر ځله د "ناصر ویتنام" یا "د مصر ویتنام" په نوم یادېده. د عثمانیانو له دورې څخه نیمه پېړۍ وروسته، یو بل لوی سیمه ییز ځواک له ورته ستراتیژیک واقعیت سره مخ شوی و.

## ۲۰۱۵: په هماغه جغرافیه کې یوه نوې جګړه

د ناصر له دورې څخه نیمه پېړۍ وروسته، تاریخ یو بل سیمه ییز ځواک وازمایه—دا ځل د سعودي په مشرۍ ایتلاف . حوثیا نو، چې ریښې یې د یمن په زایدي دود کې وې، په ۲۰۱۴ کال کې پلازمېنه صنعا ونیوله. د دوی وروسته پرمختګ سویلي لور ته او دا احتمال چې ګواکي دوی به عدن ونیسي او د هېواد پر ډېره برخه به خپله ولکه پراخه کړي، د ریاض لپاره یې د امنیت یو د منلو وړ نه وضعیت رامنځته کړ.

سعودي عربستان په خپلو سویلي سرحدونو کې د حوثیا نو تر مشرۍ لاندې د یو پیاوړي واکمن ځواک راپورته کېدل— چې له ایران سره نږدې اړیکي او د یمن د دولت پوځي زېرمو ته لاسرسی یې درلودیو ستراتیژیک ګواښ ګاڼه. کله چې د حوثیانو پرمختګ ولسمشر عبدربه منصور هادي اړ کړچې عدن ته شاتګ وکړي او د خلیج له هېوادونو څخه پوځي مرسته وغواړي، نود سعودي په مشرۍ ایتلاف د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۲۶مه خپله مداخله پیل کړه.

موخې روښانه وې: د حوثیانو د پرمختګ مخه نیول، واک ته د هادي د حکومت بېرته راګرځول، او په یمن کې د ځواک د توازن د داسې بدلون مخنیوی چې په پرېکنده توګه د ریاض په زیان وي. سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو عصري جنګي الوتکې، دقیقې هدایت کېدونکې وسلې، پرمختللي استخباراتي ورتیاوې او پراخې مالي سرچینې درلودې. خو د کلونو هوایي بریدونو سره سره، هغوی ونه توانېدل چې "انصار الله" ډله د شمالي یمن له غرنیو سیمو څخه لرې کړي.

تر دې مهمه دا چې، "انصار الله" یوازې ژوندي پاتې نه شول، بلکې د همدې جګړې په بهیر کې یې وده وکړه او پیاوړي شول . په پیل کې دا یوازې یوه سیمه ییزه وسله واله ډله وه،خو ورووروو یې خپله وسله واله ورتیا دومره پرمختللې کړه چې بالیستیک توغندي، کروز توغندي، بې پیلوټه الوتکې او پر سمندري اهدافو د برید وړ وسلې یې پکې شاملې شوې. په دې توګه، نږدې پنځه پیړۍ تاریخ یو ځل بیا هماغه ستراتیژیک حقیقت ثابت کړی دی: یمن ته ننوتل ممکن دي. پر یمن بمباري کول ممکن دي. د دې هیواد پر ښارونو او بندرونو لنډمهاله ولکه ټینګول ممکن دي. خو د یمن پر غرنۍ او ټولنیزې اصلي سیمې باندې دایمي بهرنۍ پوځي ولکه ټینګول یو بشپړ توپیر لرونکی او ستونزمن کار دی.

د دې یو اصلي لامل د شمالي یمن خورا سخت او غرنۍ جغرافیایي جوړښت دی، چې په ځمکنۍ جګړه کې د پرمختللې ټیکنالوژۍ د برترۍ له لارې د پرېکنده پایلو ترلاسه کول محدودوي. ژورې او تنګې درې، لوړې هوارې ځمکې (پلاټوګانې)، په غرونو کې موجود غارونه او خپاره واره استوګنځي دفاع کوونکي لوري ته طبیعي خوندیتوب وړپه برخه کوي. په ورته وخت کې، دا ځانګړتیاوې د هوایي ځواک، دقیقو وسلو او عصري څارګرو سیستمونو د ګټو په دایمي ځمکنۍ ولکه بدلول خورا ستونزمن کوي. خو یوازې جغرافیه د دې مقاومت د تشریح کولو لپاره کافي نه ده.

دا موضوع باید د شمالي یمن د پېړیو پخوانیو زایدي سیا سي او مذهبي دودونو، د هغوی د پیاوړو قبیلوي جوړښتونو او د مرکزي او بهرني واک پر وړاندې د مقاومت د ژور کلتور ترڅنګ وڅېړل شي. دا ټول عوامل په ګډه داسې یوه ټولنیزه او جغرافیایي فضا رامنځته کوي چې د بهرنۍ ولکې پر وړاندې خورا کلک مقاومت کوي.

"انصار الله" یوه داسې ډله نه ده چې په مصنوعي توګه له بهر څخه رامنځته شوې وي. دا یوه اصیل یمني ځواک دی چې خپل ټولنیز بنسټ ، جغرافیه، سیا سي موخې او تاریخي حافظه لري. بې له شکه ایران، په ځانګړې توګه د جګړې د پرمختګ په لړ کې، د دې ډلې د توغندیزو، بې پیلوټه الوتکو او نورو پوځي وړتیاوو په پیاوړتیا کې مهم رول لوبولی دی. خو ایران د شمالي یمن د مقاومت دود نه دی رامنځته کړی.

دا دود د ننني ایران د اسلامي جمهوریت له تاسیس څخه پیرۍ ورانديې شتون درلود. دا دود لا دمخه د شمالي یمن په سیاسي او ټولنیز جوړښت کې ژور ريښې درلودې. له همدې امله، د "انصار الله" د مقاومت او پایښت یوازې د ایران د ملاتړ له لارې تشریح کول، د یمن جغرافیه، تاریخ او تر ټولو مهمه دا چې د هغه خپل داخلي تحرکات له پامه غورځول دي. ایران ممکن د مقاومت وسلې پیاوړې کړې وي، خو هغه جغرافیه، تاریخي حافظه یا ټولنیز بنسټونه یې نه دي رامینځته کړي چې مقاومت یې ممکن کړی و.

# پایله

افغانستان او یمن له جغرافیايي پلوه خورا متفاوت هیوادونه دي. خو د هغوی نظامي تاریخونه په یوه حیاتي ټکي کې سره یوځای کیږي. په افغانستان کې، په نولسمه پیړۍ کې بریتانیا، له ۱۹۷۹ وروسته شوروي اتحاد، او له ۲۰۰۱ وروسته متحده ایالاتو او د هغوی متحدینو، ټولو د ټیکنالوژیکي او دوديز نظامي برترۍ په دوامداره سیاسي کنټرول بدلولو کې له ستونزو سره مخ شوي دي. په ۲۰۲۱ کې، متحده ایالات بالاخره په خورا سپکوونکو شرایطو کې له افغانستان څخه ووتل. په یمن کې هم عثماني نیانو، د ناصر مصر او په دې وروستیو کې د سعودي په مشرۍ ایتلاف له همدې ستراتیژیکې ستونزې سره په بېلابېلو بڼو مخ شوي دي.

خو هغه بنسټیز جیوپولیټیک عامل چې یمن له افغانستان څخه جلا کوي، سمندر دی. افغانستان یوه وچه کې ایسار هیواد دی. په مقابل کې، یمن د سمندري لارو په هغه نړیوال رګ کې خورا مهم موقعیت لري چې د باب المندب تنګي او سره سمندرګي له لارې هند سمندر له سویس کانال سره نښلوي. له همدې امله، جغرافیه یمن ته یوه داسې ستراتیژیکه ځانګړتیا ورپه برخه کوي چې افغانستان یې نه لري.

په پایله کې، "انصار الله" له یوې داسې ځمکني ځواک څخه چې یوازې د غرنۍ سیمې په کارولو سره یې بهرنۍ مداخله کمزورې کوله، پرمختګ کړی او لوړې کچې ته رسیدلی دی. د بالیستیک او کروز توغندیو، بې پیلوټه الوتکو، ماینونو او له ساحل څخه د کښتیو ضد وسلو په کارولو سره، دې ډلې د " سیمې ته د لاسرسي مخنیوي/ سیمې د کنټرول مخنیوي" (A2/AD) د پام وړ وړتیا رامینځته کړې ده. په دې توګه، د یمن ستراتیژیک ځواک په دوو اړخونو کې خلاصه کیدی شي: په غرونو کې د مقاومت وړتیا او له ساحل څخه د نړیوال سمندري ترانسپورت په امنیت او لګښت باندې د اغیزې کولو وړتیا.

خو په ځمکنۍ کچه، د افغانستان او یمن ترمنځ ورته والی یوازې په دې حقیقت پورې محدود نه دی چې دواړه غرنۍ سیمې لري. یوه ژوره ورته والی (یا مشابهت) هغه وخت رامنځته کیږي چې سخت او پیچلي جغرافیایي جوړښت له ټوټه ټوټه ټولنیزو جوړښتونو، قوي سیمه ییزو او قبیلوي هویتونو، د بهرنۍ مداخلې پر وړاندې د مقاومت له تاریخي خاطرو، او داسې سیمه ییزو لوریو سره یوځای شي چې د مقابل لوري (بهرنیو ځواکونو) په پرتله د اوږدې مودې لپاره د جګړې د لګښتونو او سختیو د زغملو وړتیا لري. په داسې

شرایطو کې، که څه هم تخنیکي او دودیز نظامي برتري ممکن د جګړې په ډګر کې خورا لويي ګټې رامنځته کړي، خو دا د مطلوبې سیاسي پایلې تضمین نه کوي. د یو بهرني ځواک لپاره، اوږده جګړه بالاخره د لګښتونو او ګټو د محاسبې په بنه بدلیږي. تلفات زیاتیږي، مالي بارونه درنیږي او کورني سیاسي فشارونه زور اخلي. کله چې اصلي ستراتیژیکو اهدافو ته رسیدل ستونزمن کیږي، نو د جګړې د بیې ورکولو د دوام لپاره سیاسي اراده هم ورو ورو کمزورې کیږي.

خو د سیمه ییز لوري لپاره، همدا جګړه اکثراً په بنسټیز ډول په بل ډول لیدل کیږي. دا د خاورې، سیاسي واک، هویت او په نهایت کې د خپله شتون د دفاع لپاره په مبارزه بدلیږي. له همدې امله، دواړه لوري وخت په مختلف ډول تجربه کوي. د بهرني ځواک لپاره، وخت لګښتونه زیاتوي؛ خو د سیمه ییز ځواک لپاره، وخت په یوه ستراتیژیکې وسلې بدلیږي. په حقیقت کې همدلته د افغانستان او یمن د جګړو ګډ درس څرګندیږي. په اوږدو جګړو کې، وخت اړینه نه ده چې د هغه لوري په ګټه وي چې پرمختللې ټیکنالوژي، ډېر اورلګوونکی ځواک (firepower) یا پراخې مالي سرچینې لري. وخت اکثراً د هغه لوري په ګټه وي چې کولی شي په خپله جغرافیه کې ټینګ پاتې شي ، سخت ګوزارونه وزغمي او مبارزې ته دوام ورکړي. کلونه وړاندې، ما د "ټایم" (Time) په مجله کې د یوه افغا ن جنګیالي خبره ولیده چې امریکایي سرتیرو ته یې کړې وه؛ هغه خبره مې هیڅکله نه ده هېره کړې: "تاسو ساعتونه لرئ، خو موږ وخت لرو."

دا جمله د افغانستان او یمن دواړو څخه ترلاسه شوي ستراتیژیک درس په ګوته کوي. ستر قدرتونه (امپراتورۍ) جګړې د بودیجې ، تاکتیزو دورو او عملیاتي مهالویشونو له مخې سنجوي؛ خو هغه خلک چې په خپله خاوره کې جنګیږي، جګړه د نسلونو په کچه ارزوي. د مقاومت په جګړو کې، جغرافیه د یوې کلا (دفاعي سنګر) حیثیت لري، خو وخت کولای شي په یوه پرېکنده وسله بدل شي.

## له یمن څخه ترکیې ته درسونه

د ترکیې لپاره، له یمن څخه تر ټولو مهم ستراتیژیک درس دا دی چې د سره سمندرګي امنیت باید په یمن کې د کورنۍ جګړې په پوځي ښکېلتیا کې له ګډوډۍ او ګډون څخه په روښانه توګه جلا وګڼل شي. د باب المندب د لارې پرانیستې ساتل او د سمندري تګ راتګ د ازادۍ او امنیت ساتنه بې له شکه د ترکیې په ګټه ده. خو دا موخې باید ترکیه په یمن کې د جګړې په یوه لوري (ښکېل اړخ) بدله نه کړي. د سعودي عربستا ن او انصارالله ترمنځ په پوځي نښته کې د ترکیې مستقیم یا غیر مستقیم ښکېلتیا به یوه جدي ستراتیژیکه تېروتنه وي.

که څه هم انصارالله د یمن پر ټولې خاورې کنټرول نه لري ، خو د هېواد په شما ل او لویدیځ کې چې ګڼ مېشته سیمې دي، قوي ټولنیز او سیاسي بنسټ لري. له همدې امله، د یمن شخړه یوازې د ایران تر ملاتړ لاندې یوې وسله والې ډلې او سعودي عربستان ترمنځ

د نښتې په توګه تعبیرول،دیمن دخپلوتولنیزو،تاریخي او سیاسي واقعیتونو له پامه غورځول دي.

ترکیه باید د دې واقعیتونو په پام کې نیولو سره د مکې د تړون له مخې خپلې ژمنې و ارزوي. دا تړون باید داسې تعبیر نه شي چې ګواکې ترکیه به په اتوماتیک ډول د یمن په کورنۍ جګړه کې او یا د انصارالله پر وړاندې په کوم ځمکني عملیات کې برخه اخلي. له همدې امله، د ترکيې بنسټیز دریځ باید دا وي چې د سعودي عربستان او یمن ترمنځ په نښته کې د یوځي لوري په توګه له ښکېلتیا ډډه وکړي او تر ممکنې کچې خپله بې طرفي وساتي. انقره کولای شي له ریاض سره خپلې ستراتیژیکي اړیکې وساتي او پراخې یې کړي، او په ورته وخت کې د دې اصل دفاع وکړي چې د یمن سیاسي راتلونکې باید په پای کې خپله د یمنیانو لخوا وټاکل شي.

د ترکيې رول باید د یو بل جنګي لوري په توګه نه وي. بلکې، چیرې چې شرایط اجازه ورکړي، باید د ډیپلوماتیکو لارو د پرانیستي ساتلو ، د اوربند د هڅو ملاتړ او د سیاسي حل لارې موندلو په برخه کې ونډه واخلي. د یمن پنځه پیرۍ تاریخ په دې برخه کې یو پیاوړی خبرداری وړاندې کوي.

یمن ته د ځواکونو استول ممکن دي. د هوایي برلاسی ترلاسه کول ممکن دي. د لنډې مودې لپاره د یمن پر ساحلونو، بندرونو او ښارونو کنټرول ترلاسه کول ممکن دي. خو کله چې یوه بهرنۍ ځواکمنه ډله یا هېواد غرنیو سیمو ته ننوځي، نو ښایي نور هغه ځواک نه وي چې د جګړې مهالویش ټاکي.

هغه څه چې ترکیه باید په یمن کې وساتي، کومه پوځي جبهه نه، بلکې د عمل کولو ستراتیژیکه ازادي ده. د مکې تړون باید په داسې میکانیزم بدل نشي چې ترکیه د یمن غرنیو سیمو ته راښکاره کړي. دلته یو بنسټیز توپیر شته: په سره سمندرګي او باب المندب کې د سمندري امنیت ساتل یو ستراتیژیک هدف دی، خو په یمن کې په ځمکنۍ جګړه کې ښکېل کېدل بل څه دي. ترکیه باید دا دواړه مسایل یو له بل سره ګډوډ نه کړي. ځکه چې یمن یوازې یمن نه دی؛ یمن باب المندب دی، یمن سره سمند رګی دی او یمن د سویس (کانال) سویلي دروازه ده.

## ددی مقالی دلیکوال په اړین څو کرښي :

. تقاعد شوی اډمیرل جیم ګوردنیز (Cem Gürdeniz)؛ لیکوال، د جیوپولیټیک (سیاسي جغرافیې) کارپوه، تیوریسټ او د ترکيې د "آبي وطن" (Mavi Vatan) د نظریې یا ډوکترین جوړونکی. هغه د ترکيې د سمندري ځواکونو په مرکزي دفتر کې د ستراتیژۍ د څانګې د مشر او وروسته د پلانونو او پالیسۍ د برخې د مشر په توګه دنده ترسره کړې ده. د هغه د عملیاتي دندو په لړ کې، هغه د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ د امفیبیوس (په

*ځمکه او اوبو کې د تګ وړ) کښتیو د ډلې او د ما ین پاکی د بېړیو د ځواک د قوماندان په توګه کار کړی دی. هغه په ۲۰۱۲ کال کې تقاعد شو. هغه په ۲۰۲۱ کال کې د "حامد ناجي آبي وطن " (Hamit Naci Blue Homeland) بنسټ تا سیس کړ . هغه د جیوپولیټیک ، سمند ري ستراتیژی، سمندري تاریخ او سمندري کلتور په اړه ګڼ شمېر کتابونه خپاره کړي دي. هغه د ATASAM افتخاري غړی هم دی. هغه د نړیوال کېډو د څېړنو د مرکز (CRG) څېړنیز همکار دی. ځانګړې شوې انځور د لیکوال لخوا چمتو شوی دی.*

**------------------- په درناوي «12-10-2026»**